# تل به زما د امت یوه ډله برلاسي وي، تر دې چې د الله امر راشي، او دوی به همداسې برلاسي وي

له مغیره بن شعبة رضی الله عنه نه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: «تل به زما د امت یوه ډله برلاسي وي، تر دې چې د الله امر راشي، او دوی به همداسې برلاسي وي».
[صحیح دی] [متفق علیه دی]

نبي صلی الله علیه وسلم خبر ورکړی چې زما د امت یوه ډله به تل پر خلکو برلاسې وي، پر خپلو مخالفینو به غالبه وي، تر دې چې د الله امر راشي - یعنې د دوی ارواح الله تعالی واخلي - د دنیا د پای پر مهال، مخکې له دې چې قیامت راشي.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/65879